انجنیر سید عبدالقادر

۲۵ اپریل ۲۰۱۵

## دپاک تکبیر «الله اکبر» ترږغ لاند ی دتنظیمی جهادیانو غلا وی او وژنی

**دوهمه برخه : په اسلام کی دتکبیر «الله اکبر» لومړی لوړ ږغ :**

په لنډه توګه وواېوچه داسلام ستر قاید نبی «علیه سلام» دهجرت پراتم کال دروژی پر۱۷نیټه دخپلو صحابه لښکرو(مهاجرین ا وانصاور) سره یوځای دمرالظهرڅخه دمکی پرلور روان سوو، او دقریشو سره حتا بیله کومی لفظی شخړی تولِه د مکی ښار ته ورننوتل. دبتانو ترلیری کولواوماتولو وروسته محمد«ص» پرکعبی شریفی طواف ترسره کړ، ا وبیا دکعبی خونی ته په داسی حال کی ورننوتی، چه اسامه اوبلال هم ورسره ملګری وه . هلته محمد «ص» لمونځ وکړ اودکعبی دخونی یوی اوبلی خوا ته په مختلیفوځاینوکی د «الله اکبرولا اله الاالله» په ویلویی شروع وکړل (.سیرت رسول اکرم «ص» صفحه ۵۵۲ـ ) . په بل روایت کی را غلی دی ، کوم وخت چه محمد «ص» وبلال ته وویل چه ، دکعبی بام ته وخیژه او اذان وکړه . وایی په دغه وخت کی هم اصحابو په لوړ آواز د تکبیر«الله اکبر» ږغ پورته کړ .داسی ویل کیږی چه په لوړ اواز دتکبیر«الله اکبر» ناره داللّه پاک څخه درضایت اوشکرانی معنا هم افاده کوله ، ځکه چه دوی ته یی کامیابی ور په نصیب کړی وه .اوبیا راوروسته کی مسلمانانودمشرکینوسره دغزا پروخت هم دالله اکبر ږغ پورته کاوه . اوس به دلته یوازی دريِ بیلګی دافغان مجاهدینو «جهادی غلو» اوایرانی «اخوندانو » ښکاره غلاوی «دالله اکبر» ترنامه لاندی په لنډه توګه رانقل کړو:

محترم لوستونکی باید ددې جهادی جنایت کا رانو په اړوند دافغان ملی ګټو په نظرکی نیولو سره قضاوت اوپریکړه وکړی، چه نه یوازی ددې جنایت کارو څخه بیرته عامه شتمنی او خیستل سی ، بلکه محکمی ته دبیت المال دچور ترڅنګ داسلام دبدنامی په تور هم معرفی سی. دوی دتکبیر لوړی ناری دغلا کولو اوسیاسی توطیو پر وخت باندی دولس اوځنی وخت دحاضرینو دبیرلو له پاره کړی او کوی ، چه دا خپله داسلامی شریعت په وړاندی سپکاوی اوستر جرم بلل کید ایسی .داځکه چه دوی دغلاوسیاسی توطیو پر وخت دپاک خدای«ج» څخه رضایت ښکاره کوی ، چه دا خپله یولوی جرم دی .

۱ ـ کوم وخت چه دشیر پورتاریخی تپه دجنایت کارو جهادیانو اودغرب څخه راغلو تکنوکراتانو تر نا پاکه هجوم لاندی دنورودولتی مځکوپه څیر راغله، اوخپلو ځانونو ته یی حتا دکابل دښار دماستر پلان څخه هم لیری اوبیله کانالیزایسیون څخه بلډنګونه جوړ کړل .دا تپه وروسته افغان ولس په ځانګړی تو ګه کابل ښا ریانو دشیر چور په نا مه یاده کړل.خلکو وغوښتل چه دا تپه بیرته ددولت پلاس کی ولویږی ، اودا جنایت کاران محکمی ته معرفی او جزا ور کول سی ، د انتقادونو په پایله کی داقتصادی مافیاغیری مستقیم لاربنود(کرزی) دافغان ملی ګټوڅخه لیری دیوه فرمان په ذریعه ددې تاریخی کلتوری تپې دیوی بیسوی قیمت یولس زره ډالره وټاکی. اولوی ځارنوالی ته یی وظیفه ورکړی وه چه د ۶

میاشتو په وخت کی دا پیسي ځنی واخلی . وروسته جهادی غله په یوه تالار کی سره راغونډ سول، دنوروخبرو ترڅنګ یی په لوړ اواز د تکبیر «الله اکبر »ناری وهلی ، اوویل یی موږ جهاد کړی دی ، موږ مجاهدین یو، څارنوالی دروغ وایی موږ پیسی ورکړیدی .دا ناری یی وکړی نوره قصه څکه خلا صه سول ، چه کرزی هم ددی ا مریکایی جهاد دغړیتوب افتخار لری .

اوس مهال کی داتا ریخی اوکلتوری تپه ددی جنایت کارانو هستوګنځی سوله . دتاریخ په ځینو کربنو کی ویل سوی دی، چه داسیمه په۱۸۴. م کال کی یوپوځی مرکزوو،اوانګلیسانوهم په دووجګړوکی دافغانانو په څپلو کی دشیرپور دتپی څخه استفاده کړی ده .دا تپه نوره هم هغه وخت دیوه تاریخی برم اودبدبي خاونده سول ، کوم وخت چه وزیر محمد اکبر خان دانګر یانو ویسرا ( سیاسی اوپوځی مشر میکناټن ) سره دانګر زیانو دوتلو په اړوند ملاقات درلودلی. میکناټن دا تپي ته په داسی وخت کی وزیر محمد اکبر خان ته ورغلی چه یو کندک یی دمحافظت له پاره تر تپي لاندی ځای پرځای کړی وو، کوم وخت چه ددوی خبرو زور واخیست اومکناټن هغه وعده چه یی دده سره یی کړی وه چه خپل عسکر به باسی ، یوپوچ دروغ و ختل ، اومکناټن غوښتل چه پر وزیر محمد اکبر خان باندی حمله وکړی ، ده سمدلاسه دتوپانچی فیر پر وکړ، اوژوندیی ځنی واخیست. چه داپیښه دانګریزانو دپاره یو نه تلافی کیدونکی ګزار وو.

باید وول سی چه ، دشهید ډاکتر نجیب الله* دحاکمیت ترچپه کولو پوری داتپه دملی دفاع په وزارت پوری اړوند یوه عسکری قطعه پکښی ځای پرځای وه ، داتپه نه یوازی دپوځی سوق الجیشی له کبله دملی دفاع وزارت ته داهمیت وړوه، بلکه تاریخی اهمیت نورهم هغه وخت ډیر سوو، چه پر دې تپه باندی انګریزی ویسرا هم دسترمجاهد وزیر محمد اکبر په لاس دمنځه تللی دی.

۲ــ دافغانستان دهریرود داوبوغلا دپاک تکبیر «الله اکبر» تررغ لاندی: په لنډه توګه به وواپو، دسلمابند چه دهرات دښار دشما ل شرق په ۱۸.کیلومتره کی دچشت په ولسوالی کی دهریرود پرمسیر«جریان» با ندی په ۱۳۵۴ کال کی د هندوستان ددولت سره دیوقرارداد له مخی دجوړیدو تهداب کښیښول سوو. ددې بند په جو ړیدوسره کیدلایسی ۴۲میګا واټ برق اوتر «۲..» زره جریبه پوری مځکه اوبه سی .دبرق څخه یی فراه، نیمروز اوبادغیس ولایتونو هم ګټه پورته کولایسوای . متأسفانه چه د پردوپه لمسون دافغان جنایت کارومجاهدینودحملو په نتیجه کی ددې لویی اقتصادی پروژی بشپړیدو کاریی تراوسه پوری هم پای ته نه دی رسیدلی . هریرود۱۱۲۴کیلو متره طول لری چه ۵۶.کیلومتره یی په افغانستان کی اوهم ۶.کیلومتره د افغانستان اوایران په مشترک مرز کی لاره وهی .دکلونو را هیسی دهریرود دمیلیاردونو متر مکعب اوبوڅخه ایران اوتر کمنستان ګټه په داسی حال کی پورته کوی، چه دهریرود داوبو اصلی سرچنه د افغانستان دمرکزی غرنو «هندو کش» څخه ده .په۱۳۷۹ کال کی ایران او ترکمنستان دنړیوالو قبول سوو قوانیو څخه په ښکاره سرلغړونه ، په ایران کی د هریرود دابو پر جریان باندی د دوستی دبند په نامه خپل ترمنځ یو قرار داد امضاء،او په۱۳۸۴کال کی دبند تر جوړیدو وروسته ددواړو هیوادو ولس مشرانو دا بند افتتاح کړ . اوپه ۱۳۸۸ کال کی دمشهد وښار ته دهریرود داوبو دجریان د رسیدلو پمپ ستیشن په داسی حال کی داحمدی نژاد له خوا افتتاح سوو، چه حاضرونو اوولسمشر یی د دې ښکاره غلا پر وخت په لوړ اواز د«الله اکبر » ناری وهلی .

پاکستان له دی پلوه دسلما دبند په ساحه کی بي امنی جوړوی، چه دیوه اړخه افغان ولس دداسی لویی اقتصادی پروژی دګټی څخه محروم کړی ، اودبله اړخه دهند سره دافغانستان نیژدی والی ته ضربه ورکړی .ایران بیا دخپلو نامشروع اقتصادی ګټو له کبله دد ی پروژې په ساحه کی بي امنی جوړه وی . ددې بي امنیو د اصلی عاملینو یعنی جهادی تنظیمو نو ترڅنګ تورن اسماعیل خکه لوی رول بازی کړی دی ، چه دایران داستخباراتو ځانګړی استازی دی .

۳ ــ په ۱۳۵۸ کال کی دحوت پرڅلرمه دجمعی په ورځ دسهار دنهوبجو په شا وخواکی دخبل دفتر پرلورروان سوم . په دغه وخت کی ما دحفظ الصیحه محیطی دریاست دمعاون په توګه دنده مخ ته بیوله . دا ریاست په خوشحال مینه کي

دسیلو په مقابل کي موقعیت درلودلي . کوم وخت چی ریاست ته ورسیدم ، دپولیسو یوسرباز چی ددې ریاست د امنیت دنده یې په غاړه درلوده ، پس له سلام څخه مي دخیریت پوښتنه څني وکړه ، چی سلاح دې چیری د ه ، ده په ځواب کي راته وویل ، چی دشپي اشرارو په ریاست باندي حمله وکړه سلاح یی زما څخه واخستله ، دا ځکه چی ماته دحوزي له لوري دفیرامر نه ووسوي . وروسته دریاست وحویلي ته ننوتلم ، او ټول دفترونه مي دنژدي ولیدل .اوهم دغو اشرارو په دغه شپه باندي دریاست ټول شیان ( چی دملت دشتمنیو ) یوه کوچني برخه وه وړي یي وه . دغه ریاست ځکه ډیر لوکس لوازم درلودل ،چی د یو نسیف کومکونه ورسره جاري وه . په دې ریاست کي لوکس لوي دفتري قالیني دګیستیتنر دوه ماشینه ، دلیکلو ټیپونه او لوکس فرنیچر موجود وه . ماسرباز ته وویل ،چی دغه لوي قالیني او فارنیچر یي څنګه وړل ، ده په ځواب کي راته وویل : چی قالیني یی په دوو دوو نفرو باندي نیولي وی د الله اکبر ناري یي وهلي ،او دافشارو خوا ته یي ځغلولی . دحوت ددریمی په شپه دالله اکبر ترنامه لاندی دآی اس آی نوکرانو دکابل دښار ډیرو دولتی دفترونو ډیرشیان چورکړل ، چه داټوله دبیت المال یوه برخه بلل کیږی. تمت باا لخیر

۱۲_۴_۲.۱۵

***یادداشت:***

*احترام ما به امر آزادی قلم، نه تنها مانع از آن نمی گردد تا در مقابل هر دروغی ساکت بمانیم، بلکه بر ما الزام آور می سازد تا علیه آن دروغها موضع گرفته، مردم را در جریان واقعیت ها قرار بدهیم. به همین اساس:*

*۱ - همان طوری که بار ها نوشته ایم، ناگزیریم باز هم تکرار نمائیم که نفرت ما از رهبران مجاهد و افشای دزدی، جنایت و غارتگری آنها، نباید بدان معنا تعبیر گردد که گویا طرف مقابل آنها یعنی وطنفروشان و جنایتکاران پرچمی-خلقی چیزی بهتر از آنها بوده اند تا چه رسد به این که گویا از حقانیتی برخوردار بوده باشند.*

*تاریخ ۴ دهۀ اخیر گواه است که در طی این مدت هر آن جنایت و غارتی که صورت گرفته ، به شکلی از اشکال در یک طرف سکه باند وطنفروش و جنایتکار به اصطلاح دموکراتیک خلق قرار داشته است. در واقع جنایات آن باند مزدور و خود فروخته، باعث شد تا بستری جهت رشد مزدوران اخوانی به وجود بیاید.*

*۲ - این که رهبران به اصطلاح جهاد، مالکیت های عمومی را به نفع امیال شخصی شان مصادره و غصب نموده اند، نباید مانع از آن گردد، تا چشمان ما را در قبال جنایات و وطنفروشی های رهبران باند های خلق و پرچم ببندیم. رهبران و مسؤولین آن باندها نیز کارنامه ای دارند که در سیاهی کمرنگتر از کارنامۀ اخوانی ها نیست. به صورت مثال، جلاد خاد داکترنجیب:*

*نامبرده وقتی توسط دولت تره کی از سفارت افغانستان در تهران برطرف گردید، گذشته از آن که اموال منقول و دارائی های سفارت را به یغما برد، حتا زمین سفارت را نیز به فروش رسانیده، با پول آن فرار نمود. جریان این واقعه و واقعات مشابه آن از طرف وکیل، ببرک، اناهیتا و سایر رهبران پرچم را می توان در جراید منتشره در آن زمان با دقت تعقیب نمود. از آن گذشته، شخص داکتر نجیب قبل از فرار ناکام خودش، تمام دارائی های دالری افغانستان را توسط همسرش به هند انتقال داده است.*

*۳ - نویسندۀ این مقاله با تأسف تا حال حاضر نشده، برداشتش را از کلمۀ شهید و طیفی را که می توان به آن منسوب دانست، بیان بدارد. از نظر ما داکتر نجیب نه تنها شهید نیست، بلکه یکی از جنایتکاران و خاینانی است که به سزای اعمال جنایتکارانه و خاینانه اش رسیده است.*

۴ ـ از آن جائی که حرکت مردم در سوم حوت ۵۸ به اساس قیود شبگردی سختی که روسها و مزدوران آنها قایم نموده بودند از طرف روز آغاز یافت، در نتیجه ادعای نویسنده که گویا مجاهدین، شبانه اموال دولتی را به یغما برده اند، کاملاً دروغ و اتهام رذیلانه ای بیش نیست.

۵ـ خیزش آزادیخواهانهٔ سوم حوت ۱۳۵۸ را به آی . اس. آی. و سایر بیگانگان نسبت دادن، گذشته از یک دروغ و بهتان تاریخی، اهانت به مردم آزادیخواه افغانستان و زیر پای نمودن خون میلیونها شهید و مجروحی است که در سنگر دفاع از افغانستان و طرد تجاوزگران روسی، در محراب حریت نثار نموده اند.

پورتال «افغانستان آزاد- آزاد افغانستان» افتخار دارد بنویسد:

ما هرنوع تلاشی را که به خاطر مخدوش ساختن تاریخ مبارزات آزادیخواهانهٔ مردم افغانستان، از طرف هر نیروئی که صورت گیرد، به شدت محکوم نموده، حاضریم با افتخار تمام از حافظهٔ مبارزاتی مردم ما در همه جای دفاع نمائیم.

ادارهٔ پورتال AA-AA